# رَضِیَ اللّٰہُ عنہ
# د امام حُسین سیرت

## 27-July-2023



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

په 27 جولائي کال 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کیدونکے بیان

# د امام حُسین رضی اللہ عنہ سیرت

**پیشکش**

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَّۃ (اسلامِک ریسرچ سنټر)
(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د الله پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې د درود و سلام ډالۍ وړاندې کول هم ډيره د سعادت خبره ده او درودِ پاک نه لوستل ډيره محرومي ده، مونږ له پکار دي چې د درودِ پاک لوستلو لازمي عادت جوړ کړو، راځئ! د سلطانِ کربلا، سَیِّدُ الشُّهَداء، امامِ عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت شوي 2 حديثونه اورو: **(1)** امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د چا په مخکښې چې زما ذکر اوشو، هغه درودِ پاک اونه لوستلو، بے شکه هغه د جنت لاره هيره کړه.[1]

**(2)** هم د حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، د دواړو جهانونو تاجدار، مکي مدني سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کنجوس دے هغه کَس د چا په مخکښې چې زما ذِکر اوشي،

[1]… معجمِ کبير، جلد:2، صفحه:249، حديث:2818

او هغه په ما باندې درود اونه لولي.[1]

پڑھتا رہوں کثرت سے درود اُن پہ سَدا میں | اور ذِکر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے[(2)]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو باندې دے.[3]
اے عاشقانِ رَسُول! ښه نیت بهترین عمل دے، د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❁ د نظر ښکته ساتلو سره به په توجه سره بیان اورم ❁ د عِلمِ دِین د تعظیم په خاطر چې څومره وخت کیدے شي د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې به کښینم ❁ د ضرورت مطابق به د ځان راټولو سره نورو ته ځائے پریږدم ❁ که دیکه وغیره راکړے شوه نو صبر به کووم ❁ چا ته په یو نظر د کتلو، رټلو، جګړې نه به ځان ساتم ❁ د بیان نه پس به پخپله د وړاندې کیدو سره مسلمانانو ته سلام کووم ❁ لاس به میلاوهم ❁ او د انفرادي کوشش کولو سره به د نیکئ دعوت ورکووم.
اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

حضرت یعلٰـی بن مُرَّه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: یو ځل خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے

[1]... ترمذی، کتاب الدعوات، باب قول رسول الله ...الخ، صفحه:811، حدیث:3546۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحه:114۔
[3]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابهٔ کرامو عليهمُ الرِّضوَان ته په څه ځائے کښې دعوت وو، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرام عليهمُ الرِّضوَان د ځان سره کړل او د دعوت د پاره روان شو، په لاره کښې ئې په يو ځائے کښې اوليدل چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمسے، امام عالي مقام امام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (کوم چې لا وړوکے وو، هغوئي) د ماشومانو سره لوبے کولې، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تُندئ سره د هغوئي په لور ورمخکښې شول او (لکه څنګه چې والد د خپلو بچو د پاره لاسونه خواره کړي او بيا راشي او سينې ته جُخت شي، هم داسې) هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم لاسونه مبارک خواره کړل.

اوس دلته د نيکه بابا او د نمسي ښکلي انداز ته اوګورئ! خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوښتل چې امام حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په منډه راشي او سينې ته راجُخت شي خو امام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اخوا ديخوا منډې شروع کړې (لکه چې وړوکي شهزاده غوښتل چې نيکه بابا ما اونيسي، لکه څنګه چې بعضې وخت ماشوم د لوبو د پاره منډې وهي نو پلار وغيره ورپسې په مزه مزه منډه وهي او ماشوم خاندي، هم داسې) رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم امام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خندولو، آخر ئې هغه را اونيولو.

د صحابهٔ کرامو عليهمُ الرِّضوَان مبارکو سترګو ته دې په لکونو سلامونه وي...!! دې خوش قسمتو به څومره په تفصيل سره د محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اداګانے نوټ کولې، د روايت الفاظ دي، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم امام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ را اونيولو، خپل لاس مبارک ئې د هغوئي د زنې لاندې کيښودو، خپل بَل لاس مبارک ئې د سر په شاته حصه باندې کيښودو او په مينه ئې د هغوئي خُله ښکل کړله، بيا ئې اوفرمائيل: حُسَيْنٌ مِنِّي وَ اَنَا مِنْ حُسَيْن حُسَين زما نه دے او زه د حُسَين نه يم، اَحَبَّ اللهُ مَنْ اَحَبَّ حُسَيْنًا څوک

چې د حُسَین سره محبت کوي، الله پاک د هغه سره محبت کوي **حُسَیْنٌ سِبْطٌ مِنَ الْاَسْبَاطِ** حُسَین په اَسبَاط کښې یو سِبط دے.[1]

## د سِبط معنیٰ او د امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ شان

د سِبط معنیٰ ده: هغه وَنه د کومې جرړه چې یوه او ښاخونه ډیر زیات وي. خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: حُسَین سِبط دے، مطلب دا چې لکه څنګه د حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام د 12 ځامنو نه د هغوئي نسل اوچلیدو او د زیاتیدو سره ډیر خور شو، هم داسې حُسَین زما سِبط دے چې د ده نه به زما نسل چلیږي او په مشرق او مغرب کښې به خور شي.[2]

دلته یوه ډیره ایمان تازه کوونکې نکته ده: الله پاک په قرآنِ کریم کښې د خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شان کښې ارشاد اوفرمائیلو:

| | |
|---|---|
| اِنَّاۤ اَعْطَیْنٰكَ الْكَوْثَرَؕ(۱) (پاره:30، الکوثر:1) | ترجَمۂ کنزُ العرفان: اے محبوبه! بے شکه مونږ تا ته بے شمیره خوبیانې عطا کړې. |

په دې آیت کښې د کَوثَر یوه معنیٰ ده: د اولاد زیاتوالے.[3] دا د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان دے چې د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شهزادګان تر ځلمي توبه پورې ژوندي پاتې نه شول، ټول په وړوکوالي کښې وفات شوي وو، د دې باوجود الله پاک د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اولاد باقي اوساتلو، اوګورئ! نن هم د لکونو کروړونو په شمیره

---

[1]... ابنِ ماجه، المقدمه، فضل الحسن و الحسین ابنی علی...الخ، صفحه:37، حدیث:144۔

[2]... مرآۃ المناجیح، جلد:8، صفحه:479 بتغیر قلیل۔

[3]... تفسیر نور العرفان، پاره:30، الکوثر، زیرِ آیت:1، صفحه:906 بتغیر قلیل۔

کښې ساداتِ کرام په دنیا کښې موجود دي، دا دے د اولاد زیاتوالے. لکه چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي چې الله کریم ما له دا شان راکړو چې زما اولاد به ډیر زیات وي، تر قیامته پورې به وي خو زما د دې شان ظهور به د حُسَین په ذریعه کیږي چې حُسَیۡنٌ سِبۡطٌ مِنَ الۡاَسۡبَاط حُسَین مضبوطې جرړې والا وَنه ده، دوئي به پخپله اګرچه شهید شي خو د ده په ذریعه به زما اولا تر قیامته پورې باقي وي.

## د حُسَینٌ مِنِّــی معنٰی

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په یو حدیث مبارک کښې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: حُسَیۡنٌ مِنِّی وَاَنَا مِنۡ حُسَیۡن یعني حُسَین زما نه دے او زه د حُسَین نه یم.

چې کله د چا سره د ډیر محبت اظهار کول وي نو په عربۍ کښې داسې قِسمه جمله وائي، لکه څنګه چې د فارسۍ یو شعر دے:

مَنۡ تُو شُدَمۡ تُو مَنۡ شُدِیۡ، مَنۡ تَنۡ شُدَمۡ، تُو جَاں شُدِیۡ
تَا کَس نَه گُوۡیَدۡ بَعۡد اَزِیۡں مَنۡ دِیۡگَرَمۡ تُو دِیۡگَرِیۡ

یعني زه تهٔ جوړ شوے ئې او تهٔ زه جوړ شوے یم، زه بدن یم او تهٔ ساه ئې، بَس د دې نه پس خوک هم نشي وئیلے چې زه خوک بل خوک یم او تهٔ خوک بَل خوک ئې.

د فرمانِ عالي شان مطلب دا دے چې حُسَین او زه 2 بدنونه یو ځان یو، زما محبت د حُسَین محبت دے، د حُسَین محبت زما محبت دے، هم داسې څوک چې د حُسَین سره جنګ کوي هغه دې دا نه ګڼي چې زه د حُسَین سره جنګیږم بلکه هغه زما سره جنګیږي. په راتلونکي وخت کښې د امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره په (میدانِ کربلا کښې) کوم واقعات وړاندې راتلونکي وو، خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه په نُورِ نبوت سره

ليدلي وو، ځکه ئې د امام حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره د دومره ډيرې مينې اظهار اوفرمائيلو.[1]

## د امامِ حُسَين د محبت فضيلت

بيا خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا هم اوفرمائيل چې اَحَبَّ اللّٰهُ مَنْ اَحَبَّ حُسَيْنًا څوک چې د حُسَين سره محبت کوي، الله پاک د هغه سره محبت فرمائي.[2]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! لږ غور اوکړئ! د امامِ عالي مقام، امام حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره ايماني محبت لرل څومره د فضيلت خبره ده چې څوک د امام حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره محبت کوي، هغه بنده د الله پاک محبوب جوړيږي.

## هغه به په جنت کښې زمونږ سره وي...!!

د امامِ عالي مقام، امام حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمانِ عالي شان دے: څوک چې زمونږ سره د دُنيا په خاطِر محبت کوي نو بے شکه دنيا دار خو د چا نيک يا بد سره هم محبت کوي، آو! څوک چې زمونږ سره صرف او صرف د الله پاک د رضا په خاطر محبت کوي، هغه او مونږ به د قيامت په ورځ داسې يو ځائے يو، د دې وئيلو سره هغوئي د شهادت ګوته او د دې سره ګوته يو ځائے کړله.[3]

کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا اَصحاب و اَہلِ بیت کا
ہے خدائے مصطفٰے، اصحاب و اہلِ بیت کا
جینا مرنا اُن کی اُلفت میں ہو یارب! اور ہو
قُرب جنت میں عطا اصحاب و اہلِ بیت کا
حَشر میں مجھ کو شفاعت کی عطا خیرات ہو
واسطہ یا مصطفٰے! اصحاب و اہلِ بیت کا(4)

---

[1] ... مرآۃ المناجیح، جلد:8، صفحہ:479 خلاصۃً۔

[2] ... ترمذی، ابواب المناقب ... الخ، باب مناقب ابی محمد الحسن ... الخ، ص:857، حدیث:3782 ملتقطًا

[3] ... مقتل الحسین لطبرانی، صفحہ:76، رقم:115

[4] ... وسائلِ فردوس، صفحہ:35 ملتقطًا۔

## د حُسَین د محبت په برکت ورته بخښنه اوشوه

علامه ابن جوزي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ لیکي: یو ځل د حضرت عَمرو بن لَیث رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ مخې ته د هغوئي فوځ جمع کړے شو، هغوئي چې خپل ډیر فوځ اولیدلو نو په زړه کښې ئي سوچ اوکړو: اے کاش! د امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د شهادت په وخت زه په کربلا کښې موجود وے، زما سره هم دومره فوځ وے نو ما به خپل ځان، خپل شان و شوکت او ټول فوځ د هغوئي په ښپو کښې قربان کړے وے.

د هغه زمانے یو ولِـیُّ الله ته په خوب کښې په غیبو باندې خبردار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زیارت نصیب شو، هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: عَمرو بن لیث ته اووایه چې د هغه په زړه کښې چې کوم خیال راغلے دے، مونږه د هغې نه خبر یو او مونږه د هغه اراده قبوله کړې ده، الله پاک دې هغه له د دې ارادے لوئے اجر ورکړي.[1]

**په کتابونو کښې لیکلے شوي دي:** د حضرت عَمرو بن لیث رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د وفات نه پس چا هغوئي په خوب کښې اولیدلو او پوښتنه ئي ترینه اوکړه: الله پاک ستاسو سره څه معامله اوفرمائیله؟ اوئي وئیل: هغه یو خیال کوم چې د امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د **محبت** په سبب زما په زړه کښې راغلے وو، د هغې په برکت الله پاک زه اوبخښلم.[2]

---

[1]... بستان الواعظین، مجلس فی فضل یوم عاشوراء، عمر و بن لیث، صفحه:213 ملتقطًا۔

[2]... مدارج النبوه، قسم اول، باب نهم ذکر حقوق آنحضرت، جز:1، صفحه:305 خلاصةً۔

سُبْحٰنَ اللّٰه! سُبْحٰنَ اللّٰه! د امام عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره د محبت د اظهار څنګه انعام میلاؤ شو...!! الله پاک دې مونږ ټولو ته د امامِ عالي مقام امام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ رښتینے، پوخ، ایماني محبت نصیب کړي. الله پاک دې زمونږ نسلونه هم د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو رښتیني پاخه عاشقان جوړ کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

میری جھولی میں نہ کیوں ہوں دو جہاں کی نعمتیں
میں ہوں منگتا میں گدا اصحاب و اہلِ بیت کا

کیوں ہو مایوس اے فقیرو! آؤ آکر لوٹ لو
ہے خزانہ بٹ رہا اصحاب و اہلِ بیت کا

فضلِ رب سے دو جہاں میں کامیابی پائے گا
دل سے جو شَیدا ہوا اصحاب و اہلِ بیت کا [1]

## د امام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مختصر تعارُف

✿ سلطانِ کربلا، سیِّدُ الشُّهداءَ، امامِ عالي مقام، امامِ عرش مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسے دے ✿ د مولائے کائنات، مولا علي او د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زړه د ټوټې سیده فاطمه بتول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا شهزاده دے ✿ امام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په 5 شعبان، د هجرئ په 4 کال په مدینه منوره کښې دنیا ته تشریف راوړو ✿ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي نوم: حُسَین او شبیر کیښودو ✿ د امام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کنیت: ابو عبد الله دے ✿ لقب: سِبطِ رسول (د رسولِ پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسے) او رَیْحَانَۃُ الرَّسُول (یعني د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګُل) دے. [2]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د امام حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ولادت سره د هغوئي د شهادت

---

[1] ...وسائلِ فردوس، صفحه: 35۔

[2] ...سوانح کربلا، صفحه: 103۔

خبر هم مشهور شوے وو، حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام په بارګاهِ رسالت کښې د حاضريدو سره خبر ورکړو چې يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو نمسے به ستاسو اُمَّت شهيد کوي، حضرت جبريلِ عَلَيْهِ السَّلَام د هغوئي د شهادت د ځائے يعني د کربلا خاوره هم په بارګاهِ رسالت

کښې وړاندې کړه.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د تقدير ليکلي پوره شول، امام حُسَين رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د خپلو 72 وفادارو ملګرو سره، په 10 محرم الحرام، د هجرئ په 61 کال په ميدانِ کربلا کښې د يزيد پليد خلاف د حق آواز اوچتولو، د نيکه بابا د دِين خوکئ کولو، ظلم زغملو سره، د درد او غم د غرونو په وړاندې ثابت قدم پاتې شو او ډير په عزت، بهادرئ، شان و شوکت سره شهيد شو او تر قيامته پورې راتلونکو ته ئې د باطل خلاف د اودريدلو، په حق باندې د تللو، د ديندارئ، په عزت سره د ژوند کولو، په عزت سره د وفات کيدلو، د مړانې، بهادرئ، استقامت او صبر و رضا سبق ورکړو.

| | |
|---|---|
| حُسَيْن ايک علامت ہے زِندگی کے لئے | حُسَيْن عَزْمِ سَفر ہے مُسَافری کے لئے |

يو بَل شاعر اووئيل:

| | |
|---|---|
| فِطرَت کی مصلحت کا اشارہ حُسَين ہے | قربانيوں کی آنکھ کا تارا حُسَيْن ہے |
| وہ اس لئے لڑے کہ ستم کو مِٹا سکيں | پھر کيوں نہ ہم کہيں کہ ہمارا حُسَيْن ہے |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ... سوانح کربلا، صفحه:106۔

## د امامِ حُسَین په فضائلو باندې ... احادیث

❁ قاسِمِ نعمت، مالکِ جنت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د امام حَسَن مجتبٰی او امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُما په باره کښې اوفرمائیل: زما دا دواړه ځامن د جنتي ځوانانو سرداران دي.[1] ❁ په یو حدیثِ پاک کښې دي: مَنْ اَحَبَّهُمَا فَقَدْ اَحَبَّنِی چا چې د دې دواړو (امام حسن او امام حسین رَضِیَ اللہُ عَنْہُما) سره محبت اوکړو، هغه زما سره محبت اوکړو وَمَنْ اَبْغَضَهُمَا فَقَدْ اَبْغَضَنِی او چا چې د دې دواړو سره دښمني اوساتله، هغه زما سره دښمني اوساتله[2] ❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به فرمائیل: هُمَا رَيْحَانَتَایَ مِنَ الدُّنْيَا یعنې حَسَن او حُسَین په دنیا کښې زما 2 ګلونه دي[3] ❁ خوږ آقا، سِیِّدُ الانبیا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به امام حَسَن او امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُما بوئي کول او سینې ته به ئې راجُختول.[4]

کیا بات رضا اُس چمنستانِ کرم کی | زہرا ہیں کلی جس میں حُسَیْن اور حَسَن پھول[5]

**وضاحت:** اے رضا! د هغه عزت والا، کرم والا باغ (یعنې د خاندانِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) خومره ښکلې خبره ده چې په کوم کښې حضرت فاطمه زَهرا رَضِیَ اللہُ عَنْہا غوټۍ ده او حَسنَینِ کَرِیمَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُما ګلونه دي.

سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ په یو بَل ځائے کښې په بارګاهِ رسالت کښې عرض کوي:

اُن دو کا صدقہ جن کو کہا میرے پھول ہیں | کیجئے رضا کو حشر میں خنداں مثالِ گُل[6]

---

[1]... معجم کبیر، جلد:2، صفحه:174، حدیث:2549۔
[2]... معجم کبیر، جلد:2، صفحه:182، حدیث:2581۔
[3]... ترمذی، ابواب المناقب، باب مناقب ابی محمد حسن بن علی، صفحه:856، حدیث:3777۔
[4]... ترمذی، ابواب المناقب، باب مناقب ابی محمد حسن بن علی، صفحه:856، حدیث:3779۔
[5]... حدائق بخشش، صفحه:79۔
[6]... حدائق بخشش، صفحه:77۔

عاشقِ صحابه و اهلِ بیت، امیر اهلِسنت حضرت علامه مولانا محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د اعلٰــی حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د دې شعر وضاحت څه داسې کوي: د دې دواړو نه مراد حضرت امام حسن او حضرت امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُما دي. اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د دې دواړو وسیله په بارګاهِ رسالت کښې وړاندې کړې ده چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو دې دوو ګلونو په وسیله په رضا باندې داسې کرم اوکړې چې رضا هم د قیامت په ورځ د ګُل په شان مُسکا کوي.[1]

## پنج تَن پاک هم...!! جنّتي! جنّتي!

په روایتونو کښې دي: یو ځل د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلې شهزادګۍ حضرت فاطمةُ الزهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا خوا له تشریف یوړلو، هغه وخت حضرت عَلِــیُّ المُرتضٰی، شیر خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اوده وو، امام حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پــۍ اوغوښتل، خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اودریدلو او په خپلو لاسونو مبارکو ئې چیلۍ اولوشله، لا امام حَسَن رَضِیَ اللہُ عَنْہُ له ئې نه وو ورکړې چې امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هم پــۍ اوغوښتل، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ځویه! مخکښې ستا ورور پــۍ غوښتلي دي، مونږ به ئې وړومبے هغه له ورکوو، بیا به ئې تا له درکوو. دا ئې چې اولیدل نو سیده فاطمةُ الزهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! داسې ښکاري چې تاسو د حَسَن سره ډیره مینه کوئ...!! اوئې فرمائیل: زه د دې دواړو سره

---

[1] ... دوست کسے بنایا جائے؟، صفحه: 21 بتغیر قلیل۔

محبت کووم. بے شکه زه، تهٔ، دا دواړه (یعنې حَسَن او حُسَین) او دا اوده (یعنې حضرت عَلِـیُّ المُرتضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُم) به د قیامت په ورځ په یو ځائے کښې یو.[1]

| | | | |
|---|---|---|---|
| ہر صحابیٔ نبی! | جنّتی جنّتی | سب صحابیات بھی! | جنّتی جنّتی |
| چار یارانِ نبی! | جنّتی جنّتی | حضرتِ صدّیق بھی! | جنّتی جنّتی |
| اور عُمرِ فاروق بھی! | جنّتی جنّتی | عُثمانِ غنی! | جنّتی جنّتی |
| فاطمہ اور علی! | جنّتی جنّتی | حسن اور حسین بھی! | جنّتی جنّتی |
| والِدَین نبی! | جنّتی جنّتی | ہر زوجۂ نبی! | جنّتی جنّتی |
| اور ابو سُفیان بھی! | جنّتی جنّتی | ہیں معاویہ بھی! | جنّتی جنّتی(2) |

## د حَسَن او حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنْهُما د پاره رنا شوه

د صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے: یوه ځل د شپې وخت وو، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ماسخُتن لمُونځ جَمعه ورکوله، دواړه شهزادګان امامِ حَسَن او امام حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنْهُما هم هلته موجود وو، کله چې به خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سجدې ته تللو نو دواړه شهزادګان به د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ملا مبارکه کښیناستل، کله چې به هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سجدې نه سر راپورته کولو نو هغوئي به ئې په نرمئ سره رانیول او په زمکه باندې به ئې پریښودل، چې کله به هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیا سجدې ته تللو نو دواړو شهزادګانو به بیا داسې کول، کله چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لمُونځ پوره کړو نو دواړه شهزادګان ئې په غیږه کښې کښینول، حضرت

---

[1]... تاریخ مدینه دمشق، جلد:14، صفحه:164۔

2...وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: زه ور ړاندې شوم او عرض مې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! شهزادګان کور ته بوځم؟ هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اجازت راکړو. په یو روایت کښې دي: په کوڅه کښې تیارهٔ وه نو دواړو شهزادګانو ته کور ته په تللو کښې ویره محسوسه شوه، د شهزادګانو په خاطِر هغه وخت په آسمان کښې بریښنا اوشوه او کوڅه روښانه شوه، تر څو چې شهزادګان کور ته نه وو رسیدلي، تر هغه وخته پورې رڼا موجوده وه.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** امامِ عالي مقام، حضرت امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ډیر د اعلیٰ اخلاقو او کردار مالِک وو، راځئ! د هغوئي د پاک سیرت د یو څو ښکاره اړخونو په باره کښې اورو:

## د امامِ حُسَین عبادتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږ آقا، سلطانِ کربلا، امام عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ډیر عبادت ګزار، متقي او پرهیزګاره وو، ✿ علّامه اِبنِ اَثِیر جَزرِي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ لیکي: امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به ډیر زیات لُمونځونه کول، روژې به ئې نیولې، حجونه به ئې کول، صدقه او خیراتونه به ئې کول او د نیکئ هر کار به ئې کولو.[2]

✿ شهزادهٔ امامِ عالي مقام حضرت امام زینُ العابِدین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: زما بابا جان امام حُسین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به په شپه ورځ کښې زر (1000) نوافل ادا کول.[3]

---

[1]... تاریخ مدینه دمشق، جلد: 14، صفحه: 158- 159-

[2]... اسد الغابه، جلد: 2، صفحه: 27، رقم: 1173-

[3]... اَلْعِقْدُ الْفَرِید، باب من کلام الزهاد و اخبار العباد، جلد: 3، صفحه: 114 ملتقطًا-

❁ د امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په باره کښې دا هم نقل دي چې هغوئي 25 حجونه پیدل کړي وو.[1]

## د امامِ حُسَین د خوښې ځلور عبادتونه

د عاشورې په شپه چې کله امامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په میدانِ کربلا کښې وو، هغوئي خپل ورور حضرت عبّاس علمبردار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته اوفرمائیل: په څه طریقه جنګ تر سبا پورې اوځنډوئ! د پاره د دې چې نن شپه مونږ د الله پاک عبادت اوکړے شو، الله پاک ښه خبر دے چې زما (1) لمُونځ کول (2) د قرآنِ کریم تلاوت کول (3) ډیرې دعاګانے کول او (4) ډیر اِستغفار کول ډیر خوښ دي.[2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** محبت اطاعت ذریعه جوړیګی ، د امامِ عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره زمونږه محبت څنګه دے؟ لږ مونږه هم غور اوکړو؟ د 10 مُحَرَّمُ الحَرَام شپه د امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ظاهري ژوند مبارک آخري شپه وه خو د الله پاک د عبادت ذوق او شوق ته اوګورئ!

کاش! کاش! مونږه غلامانِ امام حُسَین هم د خپل محبوب په نقشِ قدم باندې د تللو سره د عبادتونو او ریاضتونو کولو سره د خپل ژوند شپې او ورځې تیرې کړو. یاد ساتئ! په حدیثِ پاک کښې دي: بنده به د هغه [چا] سره وي د چا سره چې هغه محبت کوي.[3] که مونږه په ژبه باندې د امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره د محبت دعوے کوو خو د امام

---

[1]... تاریخ مدینه دمشق، جلد:14، صفحه:180۔

[2]... الکامل فی التاریخ، ثم دخلت سنة احدی و ستین، ذکر مقتل الحسین، جلد:3، صفحه:166۔

[3]... بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، صفحه:934، حدیث:3688مفهومًا۔

عالي مقام امام حُسَین رضی اللہ عنہ سیرت مبارک نه خپلوو نو زمونږه محبت ناقص دے ځکه چې عاشق په خپل محبوب پسې شاته شاته ځي. امام حُسَین رضی اللہ عنہ په خپل مبارک مخ باندې د خپل خوږ نیکه بابا جان رحمتِ عالمیان صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ښکلې ښکلې سنت ګیره مبارکه ساتلې وه، د هغوئي د والدِ محترم مولا مشکل کُشا رضی اللہ عنہ هم ګڼه ګیره مبارکه وه. مونږه غور اوکړو چې زمونږ په مخ باندې دا سُنتِ رسول صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم شته؟ امام عالي مقام حضرت امام حُسَین رضی اللہ عنہ د خپل ژوند مبارک آخري د سحر لمُونځ په خپله خیمه کښې د جَمعے سره ادا کړو ولې دښمن د څلور واړه اړخونو نه تورې راویستلې وې؟ د اهلِ بیت اَطهار علیهم الرضوان اصلي محبت د هغوئي په پیروئ کولو کښې دے، د امام عالي مقام امام حُسَین رضی اللہ عنہ د مبارک ژوند نه مونږ ته دا سبق میلاویږي چې مونږ ته پینځه واړه لمُونځونه د جَمعے سره ادا کول پکار دي او په وخت راتلو د دِین د پاره د هر قسمه قربانئ ورکولو د پاره تیار اوسیدل پکار دي. الله کریم دې مونږ ته د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتو رضی اللہ عنہم سره حقیقي محبت نصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

## په جامو مبارکو کښې د سنتو لحاظ

د امام عالي مقام چې په کوم درزي باندې به هغوئي جامې ګنډلې، هغه وائي: ما امام عالي مقام رضی اللہ عنہ ته عرض اوکړو: د جامو اوږدوالے تر ښپو پورې اوساتم؟ اوئې فرمائیل: نهٔ. ما عرض اوکړو: د ګِټو [یعني پړکو] نه ښکته ئې اوساتم؟ اوئې فرمائیل: مَا اَسْفَلَ مِنَ الْکَعْبَیْنِ فِی النَّارِ یعنې کومه کپړا چې د ګِټو نه ښکته زوړنده وي، هغه په اُور کښې ده.[1]

---

[1] ... مقتل الحسین لطبرانی، صفحہ:33، رقم:28۔

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه: امام عالي مقام رضی اللہ عنہ د سنتو لحاظ ساتونکے وو، په جامو کښې سنت دا دي چې تهبند (يا پرتوګ وغيره) د ګِټو نه بره وي. امام عالي مقام رضی اللہ عنہ د دې لحاظ اوفرمائيلو.

اوس د محبتِ امام حُسَین دعوٰی کوونکي دې لږ په خپلو جامو باندې غور اوکړي، ❀ مونږه په جامو کښې د سنتو خيال ساتو يا په جديد فيشن باندې روان يو؟ ❀ زمونږ په سر باندې د سُنَّت مطابق عمامه شريف وي يا نه؟ ❀ زمونږ پرتوګ، پاجامه يا پينټ وغيره د ګِټو نه بره وي يا د جديد فيشن د بے ځايه محبت په وجه د ګِټو نه ښکته زوړند وي؟ آه! افسوس! نن سبا د فيشن پرستئ دور راخور دے، په ګرځيدو، کښيناستو پاڅيدو، خوراک څښاک وغيره کښې د سنتو خيال ساتل خو غټه خبره ده ډيرو خلقو ته د دې سنتو هډو پته هم نه وي. کاش! د امام عالي مقام رضی اللہ عنہ په وسيله زمونږ د سنتو سره محبت نصيب شي. په حديثِ پاک کښې دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## اِسبَال څه ته وئيلے شي؟

ياد ساتئ! پرتوګ، پاجامه يا پينټ وغيره د ګِټو نه ښکته ساتلو ته اِسبَال وئيلے شي[2] او دا مکروهِ تنزيهي (يعني په شريعت کښې ناخوښه) دي. آو! که د ځان خوښئ(خود پسندی)

[1]... مشکوٰۃ، کتابُ الْاِیمان، بابُ الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

[2]... بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:632 حصه:3مفصلاً۔

او تکبر په نیت سره وي نو ګناهِ کبیره، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. (1)

## د امامِ عالي مقام د غریبانو سره محبّت

د امامِ عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یو ډیر ښکلے صفت دے چې هغوئي به د غریبانو، مسکینانو، یتیمانو ډیر زیات خیال ساتلو. یو ځل هغوئي اوفرمائیل: مونږه اَهلِ بَلا یو (یعني په دنیا کښې زمونږ د پاره ازمیښتونه دي)، مونږه دنیائي عیش و عشرت پریښودے دے، خپل ټول آرمانونه مو ختم کړل او خپل ژوند مو د نورو د آرمانونو پوره کولو د پاره وقف کړو.[2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلے شان دے د امامِ عالي مقام رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ...!!

## د غریبانو مسکینانو سره محبت

یو ځل د امام عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ښځې محترمې هغوئي ته پیغام رااولیږو چې مونږه په کور کښې ستاسو د پاره بهترین خوراک او خوشبو تیاره کړې ده، تاسو چې څوک د ځان لائق وینئ، هغوئي د ځان سره راولئ او کور ته تشریف راوړئ. د دې پیغام اوریدو سره امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ جُمات ته تشریف یوړلو، هلته چې کوم غریبانان مسکینان راجمع وو، هغوئي ئې د ځان سره کړل او کور ته ئې راوستل، ښځې محترمې ته ئې اوفرمائیل: زه تا له د خپل حق قسم درکووم! تهٔ به خوراک او خوشبو نه بچ کوې. ښځې محترمې ئې هم داسې اوکړل، ټول خوراک او خوشبو ئې حاضره کړه، امام حُسَین

---

1 ...فتاویٰ رضویه، جلد:22، صفحه:167 ملخصاً۔

2 ...کَشْفُ الْمَحْجُوب، صفحه:115 بتغیر قلیل۔

رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په هغه غريبانانو مسکينانو باندې ډوډۍ اوخوړه، هغوئي له ئې جامې ورکړلې او خوشبو ئې ورله هم اولګوله.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! څومره ځانګړے شان دے...!! زمونږه آقا، زمونږه محبوب، د رسولُ اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسي، امام حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به د غريبانو سره څومره محبت کولو! کاش! چې مونږه هم د غريبانو سره محبت اوکړو، د هغوئي پګار راځو، د مسکينانو، يتيمانو، بے وَسو په غم کښې شريک کيږو.

## د غريبانانو د زړه ساتلو اَهَمِّيَّت

د غريبانانو د زړه ساتلو څومره اهميت دے، د دې خبرې اندازه د دې خبرې نه اولګوئ چې اللّٰه پاک خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حکم اوکړو:

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَ الْعَشِیِّ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَهٗ

(پاره:15،الکہف:28)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او خپل ځان د هغه خلقو سره اشنا ساته کوم چې سحر او ماښام خپل رَبّ رابلي د هغه رضا غواړي.

دا آيت مبارک د هغه صحابهٔ کرامو علیھمُ الرِّضوَان په حق کښې نازل شو کومو چې مخکښې د غلامئ ژوند تير کړے وو، هغوئي غريبانان وو، اللّٰه پاک د هغوئي په باره کښې خپل محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حکم اوکړو: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! خپل ځان د دې فقيرانو صحابهٔ کرامو سره اشنا ساته! حضرت خَبَّاب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د دې آيت د نازليدو نه وروستو حالت دا شو چې خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به زمونږ سره

---

[1]... مکارم الاخلاق لطبرانی، صفحه:104، رقم:172 ملتقطًا۔

تشريف فرما وو، مونږ به چې پخپله اجازت واخستلو نو اخستلو به مو، ګني نو حضور به مونږه هلته د داسې پريښودو سره چرې هم نه پاخيدلو.[1]

بے دام ہی بِک جایئے بازارِ نبی میں | اس شان کے سودے میں خسارے نہیں ہوتے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له پکار دي چې د غريبانانو، مسکينانو، يتيمانانو سره محبت اوکړو، په زړه کښې د هغوئي مينه زياته کړو، د هغوئي سره د عزت معامله کوو او څومره چې کيدے شي د هغوئي د ملاتړ کولو هم کوشش کوو. الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي.

## د الله پاک محبوب جوړونکے عمل

حَسني، حُسيني سيد، حُضور غوثِ پاک شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اے مالدارانو! که د دُنيا او آخرت خير غواړئ نو د خپل مال په ذريعه د غريبانانو سره همدردي اوکړئ![2] بيا غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو حديثِ پاک بيان کړو: د الله پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خلق د الله پاک عِيَال (يعني د الله پاک بندګان او د هغه محتاجه) دي، الله پاک ته زيات خوښ هغه دے کوم چې د الله پاک عيال ته زياته فائده رسوونکے وي.[3]

---

[1]... تاريخ مدينه دمشق، جلد:10، صفحه:447و 448۔

[2]... فتح الرحمٰن، صفحه:127۔

[3]... موسُوعه ابنِ ابي دُنيا، کتاب قضاء الحوائج، جلد:4، صفحه:159، حديث:24۔

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غم زړيلي اُمَّت غم خوار تحريک دے. د دعوتِ اسلامي شعبه *FGRF* خاص د دې مقصد د پاره کار کوي، د غريبانانو، بے وَسو، يتيمانانو، مسکينانو غمخواري کول، د هغوئي پکار راتلل، د هغوئي مرسته کول، په سخته کښې د اُمَّت ملاتړ جوړيدل، په آفتونو، مصيبتونو کښې د نبتي خلقو پکار راتلل د دې شعبے خاص کار دے. تاسو هم د *FGRF* مرسته اوکړئ! په نيکو کارونو کښې حصه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دُنيا او آخرت بے شميره خيرونه به مو نصيب شي.

| | |
|---|---|
| ہو مرا کام غریبوں کی حمایت کرنا | درد مندوں سے ضعیفوں سے محبّت کرنا |
| مرے اللہ! بُرائی سے بچانا مجھ کو | نیک جو راہ ہو، اس رہ پہ چلانا مجھ کو |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## امام حُسَين رضی اللہ عنہ معاف کوونکے دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د امام عالي مقام، امام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو ډير ښکلے عادت دا هم وو چې چا به هغوئي ته تکليف رسولو، هغوئي به هغه معاف کولو. عِصَام بن مُصطَلِق کوم چې د مولائے کائنات مولٰى علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره بغض ساتلو، يو ځل هغه د امام عالي مقام، امام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وړاندې د هغوئي بابا جان مولٰى علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې رَد بَد شروع کړل، په دې باندې امام حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ته څه اونه وئيل، هيڅ جوابي

کاروائي ئې هم اونه کړه بلکه د اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم او بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم لوستلو سره ئې دا آيتونه تلاوت کړل:

خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِیْنَ ﴿۱۹۹﴾ وَ اِمَّا یَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّیْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ ﴿۲۰۰﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ اتَّقَوْا اِذَا مَسَّهُمْ طٰٓىٕفٌ مِّنَ الشَّیْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ﴿۲۰۱﴾

(پاره:9 ، الاعراف : 199 -201 )

مفهوم ترجمه کنزُ الاِيمان: اے محبوب مُعاف کول اختيار کړه او د خير حکم کوه او د جاهلانو نه مخ واړوه، او اے اوريدونکيه که شيطان تا (د بدئ په کار باندې) را پار کړي نو د الله پناه اوغواړه بيشکه هغه اوريدونکے پوهه دے. بيشکه کوم چې ويريدونکي دي کله چې هغوئي ته څه شيطاني خيال راشي، نو [د الله حکم ته] تيار وي هم هُغه وخت د هغوئ سترګې اوغړيږي.

بيا ئې اوفرمائيل: (اے عِصَامه) په ځان باندې بوج سپک ساته...!! زه د الله پاک نه ستا د پاره او د ځان د پاره د بخښنې سوال کووم.[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! غور اوکړئ! څومره ښکلے انداز دے، څومره ښکلي اخلاق دي. مخامخ کَس رد بد وائي او امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د هغه د پاره د بخښنې دعاګانے کوي. د نفرتونو ختمولو او د محبتونو زياتولو دا ډيره ښکلې نُسخه ده، مونږ له هم دا نُسخه خپلول پکار ده، الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِیْ بَیْنَكَ وَ بَیْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِیٌّ حَمِیْمٌ ﴿۳۴﴾

(پاره:24،حم السجده:34)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: بدي په نيکئ سره لرې کړه نو ستا او د کوم کَس ترمينځه چې دښمني وي هغه به هغه وخت داسې شي لکه چې هغه خوږ ملګرے دے.

[1]... تفسير بحر المحيط، پاره:9، الاعراف، زيرِ آيت: 201، جلد: 4، صفحه: 570۔

په تفسیر صراطُ الجنان کښې دي: د دې آیت نه معلومه شوه چې په دینِ اسلام کښې مسلمانانو ته د اخلاقیاتو ډیر اعلیٰ، جامع او ښه تعلیم ورکړے شوے دے چې بدي په نیکئ سره لرې کړه لکه څنګه چې د چا له طرفه تکلیف اورسي نو په دې باندې صبر کوه، که څوک د جهالت او بیوقوفئ رویه خپله کړي نو په دې باندې د حِلم او برداشت مظاهره کوه او د ځان سره په بد سلوکئ باندې د عَفو او درګزر نه کار اخله...!! [1]

سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د امام حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د نیکه بابا، د دوو کونو سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نعتِ پاک کښې لیکي:

| | |
|---|---|
| بد ہنسیں تم ان کی خاطر | رات بھر روؤ کراہو |
| بد کریں ہر دم برائی | تم کہو ان کا بھلا ہو (2) |

الله پاک دې مونږه هم معاف کړي، د بدو بدله په ښه والي سره د ورکولو توفیق دې را عطا کړي.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د امام عالي مقام عبرتناک شعرونه

اِسحاق بن ابراهیم وائي: یو ځل امام عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مقبرې ته لاړلو او د عربئ شعرونه ئې اولوستل (د کومو ترجمه چې څه داسې ده): ما قبر والؤ ته غږ اوکړو خو

[1]... تفسیر صراط الجنان، پارہ:24، حم السجدہ، زیرِ آیت:34، جلد:8، صفحہ:641 بتغیر قلیل۔
[2]... حدائقِ بخشش، صفحہ:339۔

هغوئي خاموشه پاتې شول، بیا د هغوئي د قبر خاورې ما له جواب راکړو، اوئې وئیل: آیا تا ته پته ده چې ما د خپلو اوسیدونکو څه حال اوکړو؟ ما د هغوئي نه غوښه را اوشوکوله، جامې مې ترې اوشلولې، د هغوئي سترګې مې د ویلې کولو سره د خاورو سره خاورې کړې، د هغوئي جوړونه مې بیل بیل کړل، د هغوئي هډوکي مې مات کړل او د هغوئي بدنونه مې خراب کړل او په هغوئي باندې آفتونه اوکړېده شول.[1]

## مصیبت خو په قبرونو کښې دننه دے

د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نمسي حضرت امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په باره کښې روایت دے چې هغوئي به کله قبرونو ته کتل نو فرمائیل به ئې: د بره نه دا قبرونه څومره ښه ښکلي ښکاري خو مصیبت خو د دې دننه دے، الله! الله! اے د الله بندګانو...! په دُنیا کښې مه مشغولیږئ! بے شکه قبر د عمل کور دے (یعني هلته به درسره هم صرف اعمال ځي)، نیک اعمال اوکړئ! په دې کښې غفلت مه کوئ...!![2]

قبر روزانہ یہ کرتی ہے پُکار
مجھ میں ہیں کیڑے مکوڑے بیشمار
یاد رکھ! میں ہوں اندھیری کوٹھڑی
تجھ کو ہوگی مجھ میں سُن! وحشت بڑی
میرے اندر تُو اکیلا آئے گا
ہاں مگر اعمال لیتا آئے گا
گھُپ اندھیری قبر میں جب جائے گا
بے عمل! بے انتہا گھبرائے گا
کرلے توبہ ربّ کی رحمت ہے بڑی
قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی[3]

---

[1]... تاریخِ مدینہ دمشق، جلد: 14، صفحه: 187۔
[2]... بستانُ الواعظین، مجلس فی ذکر القبور، حکایة عن الحسین، صفحه: 157۔
[3]...وسائلِ بخشش ،صفحہ:711 و 712 ملتقطًا۔

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** معلومه شوه: چې امام عالي مقام امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به مقبرې ته هم تللو، مونږ له هم پکار دي چې د عبرت حاصلولو د پاره مقبرې ته ځو، هلته د دفن شوو مسلمانانو د پاره فاتحه شریف هم لولو، د هغوئي د پاره د بخښنې دعاګانې هم کوو او ورسره ورسره عبرت هم حاصلوو، هلته د کښیناستو سره د سترګو پټولو سره تصور کوو، سوچ کوو چې ډیر زر ما ته هم دلته راتلل دي، آه! زما آخري ځائے به هم دا وي، هائے! هائے! د قبر دا تنهائي، وحشت، تیارهٔ...!! آه! قبر به زما حُسن تباه کړي، طاقت او قوت هر څه به ختم شي، سترګې به د ویلې کیدو سره اوبهیږي، آه! زما دا ښکلے بدن به په خاورو کښې میلاو کړے شي او بیا..!! بیا به د قیامت په ورځ پاڅیدل، د رَبِّ رحمان په حضور کښې حاضریدل او د خپلو اعمالو حساب ورکول وي.

په دې انداز باندې د عبرت او نصیحت د پاره مونږه د مقبرې د حاضرۍ عادت جوړ کړو، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د زړه نه به زنګ لرې شي، د ګناهونو نه به نفرت نصیب شي او د نیکو کولو ذهن به جوړیږي. اللّٰه پاک دې مونږ ټولو له د عمل کولو توفیق را کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د امام عالي مقام یوه خطبه

په آخره کښې راځئ! د امام عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ یوه د سبق نه ډکه خطبه اورو: په تاریخِ ابنِ عساکر کښې دي د کربلا په ورځ په 10 مُحَرَّمُ الحرام سحر امام عالي مقام، امام حُسَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په خطبه کښې اوفرمائیل: اے د اللّٰه پاک بندګانو! د اللّٰه پاک نه اوویریږئ! او د دُنیا نه بچ اوسئ! بے شکه په دې دُنیا کښې که چا ته همیشه اوسیدل وو نو ضرور به انبیائے کرام عَلَیْہِمُ السَّلَام همیشه اوسیدل خو اللّٰه پاک دا دُنیا د ازمیښت د

پاره پيدا کړې ده، دلته پاتې کېدونکي تول د فنا کيدو د پاره جوړ کړے شوي دي، د دُنيا نوي خيزونه زړيدونکي دي، د دې ځائے نعمتونه ختميدونکي دي، د دې ځائے خوشحالئ ختميدونکې دي، بس! د سفر سامان تيار کړئ! بے شکه د سفر بهترين سامان تقوٰی ده، د الله پاک نه اوويريږئ! د پاره د دې چې تاسو کامياب شئ...!! [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته وار اجتماع

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د نيک جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او په نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمَن اونيسئ او د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه نصيب شي.

د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **هفته وار اجتماع** هم ده. راځئ په هفته واره اجتماع کښې په پابندئ سره د شرکت کولو ذهن جوړولو د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## د ګناهونو نه په ډک ژوند کښې مدني انقلاب

د کراچئ (پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتللو نه مخکښې ما د ګناهونو ډک ژوند تيرولو، د دُنيا په مزو کښې مصروف اوسيدل زما معمول وو، د خرابو دوستانو صحبت زه خراب کړے ووم، د دوستانو سره به په شريکه

1... تاريخِ مدينه دمشق، جلد:14، صفحه:218۔

ټوله شپه د ګناهونو نه ډکه سلسله روانه وه، یو ځل یو اسلامي ورور ماته د ماښام په وخت د لمُونځ کولو دعوت راکړو، پته نه لګي چې د هغه په دعوت کښې څه اثر وو چې زه د هغوئي سره د جُمات په لور روان شوم، د ماښام لمُونځ مې اوکړو، د لمُونځ نه پس یو اسلامي ورور د **فیضانِ سُنَّت** نه درس ورکړو، د درس نه فوراً پس اسلامي ورونړو په هفته واره د سُنَّتو نه په ډکه اجتماع کښې د شرکت کولو تیاري شروع کړه. یو اسلامي ورور ماله هم په **هفته واره اجتماع** کښې د شرکت کولو ترغیب راکړو، د هغه انداز دومره ښکلے وو چې زه فوراً په اجتماع کښې د شرکت کولو د پاره تیار شوم، بیا ډیر زر د اسلامي ورونړو سره په شریکه عالمي مدني مرکز فیضانِ مدینه ته اورسیدم، هلته مې د سُنَّتو نه ډک بیان واوریدو، په ذِکرُ الله کښې مصروفه شوم، بیا د ژړا نه ډکه دُعا اوکړے شوه. **اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ!** د دعوتِ اسلامي **هفته وارې اجتماع** او د عاشقانِ رسول صحبت په ما باندې دومره اَثر اوشو چې ما د دُعا په وخت په ژړا ژړا د خپلو ګناهونو نه توبه کړه او بیا د پاره مې په نیکو کښې د ژوند تیرولو پوخ نیت اوکړو، په ما باندې خوندونه راوریدل، د اجتماع نه بیرته تللو نه پس ما د لمُونځونو پابندي شروع کړه او د نیکو نه په ډک ژوند تیرولو کښې مصروفه شوم.

اسی ماحول نے ادنیٰ کو اعلیٰ کر دیا دیکھو! | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کر دیا دیکھو!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنّت فضیلت او د ژوند د ځینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د ګوتمې [ګوتۍ] په باره کښې سُنَّت او آداب

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د نارینه د پاره د سرو زرو ګوتمه [ګوته] په لاس کول حرام کار دے. د دواړو جهانونو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سرو زرو د ګوتمې په لاس کولو نه منع فرمائيلې ده ❁ نابالغه (یعني ډیر وړوکي) هلک ته (هم) د سرو زرو سپینو زرو کالے اچول حرام دے او چا چې ورته واچولو هغه به ګنهګاریږي، دغه شان د هلکانو په لاسونو او ښپو باندې بغیر د ضرورت نه نکریزه لګول جائز کار نه دے. زنانه ئې پخپله په خپلو لاسونو او ښپو باندې لګولے شي، خو که هلک له ئې لګوي نو ګنهګاریږي به ❁ د اوسپنې ګوتمه د دوزخیانو کالے دے ❁ د نارینؤ د پاره هغه ګوتمه جائز ده کومه چې د نارینؤ د ګوتمې په شان وي یعني صِرف یو غمي والا وي او که چرې په هغې کښې (د یو نه زیات یا) ډیر غمي وي نو که هغه د سپینو زرو ولې نه وي، د نارینؤ د پاره جائز نه ده ❁ بغیر د غمي نه ګوتمه په لاس کول جائز نه ده چې دا ګوتمه نه ګڼړه ده ❁ د سپینو زرو یو غمي والا د ګوتمې وزن چې د څلور نیمو ماسو (یعني څلور ګرامه 374 ملي ګرامو) نه کم وي، په لاس کول ئې جائز دي ❁ په اخترونو کښې ګوتمه په لاس کول مستحب عمل دے. خو نارینه دې هغه جائز والا ګوتمه په لاس کوي ❁ نارینه له

[1]...مشکوٰۃ، کتابُ:الْاِیمان، بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حدیث:175۔

پکار دي چې د ګوتمې غمے د لاس تَلي طرف ته اَړَوي او زنانه دې د لاس شا طرف ته ساتي ❁ د سپینو زرو ګَړه خاص د زنانو جامه ده د نارینؤ د پاره مکروه (تحریمي، ناجائزه او ګناه ده) ❁ زنانه چې د سرو زرو او سپینو زرو څومره هم ګوتمې او ګَړې په لاس کولے شي، په هغې کښې د وزن او د غمو د شمیر څه قید نشته ❁ د اوسپنې ګوتمې ته د سپینو زرو خول اچول چې هغه بالکل اوسپنه بیخې نه ښکاري، د دې ګوتمې په لاس کول (د نارینه او زنانه دواړو د پاره) منع نه دي.[1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبة المدینه** د **بهارِ شریعت** جلد 3 نه حصه16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحات رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| الفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب     صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... 550 سنتیں اور آداب، صفحه: 57 و 58 ملتقطًا۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

---

1... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة... الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

3... تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حديث:٤٤١٥